أَلاَ أُنَبِّئُكُمْ بِخَيْرِ أَعْمَالِكُمْ، وَأَزْكَاهَا عِنْدَ مَلِيكِكُمْ، وَأَرْفَعِهَا فِي دَرَجَاتِكُمْ

له ابو الدرداء رضي الله عنه نه روايت دی وايي چې رسول الله صلى الله عليه وسلم وفرمايل: «أَلاَ أُنَبِّئُكُمْ بِخَيْرِ أَعْمَالِكُمْ، وَأَزْكَاهَا عِنْدَ مَلِيكِكُمْ، وَأَرْفَعِهَا فِي دَرَجَاتِكُمْ وَخَيْرٌ لَكُمْ مِنْ إِنْفَاقِ الذَّهَبِ وَالوَرِقِ، وَخَيْرٌ لَكُمْ مِنْ أَنْ تَلْقَوْا عَدُوَّكُمْ فَتَضْرِبُوا أَعْنَاقَهُمْ وَيَضْرِبُوا أَعْنَاقَكُمْ؟» قَالُوا: بَلَى. قَالَ: «ذِكْرُ اللهِ تَعَالَى». "آيا زه تاسو ته ستاسو د غوره عملونو په اړه خبر درنكړم چې ستاسو د واكمن پر وړاندې ترټولو پاكيزه او ستاسو مرتبو لره لوړوونكي وي او ستاسو لپاره د سرو زرو او سپينو زرو له خيراتولو غوره وي، او لدې درته غوره وي چې د خپل دښمن سره مخ شئ ؟ نو تاسو د هغوی څټونه ووهئ او هغوی ستاسو څټونه ووهي؟» هغوی وويل: ولې نه (يعني خبر (راكړه)، هغه وفرمايل: د الله تعالى ذِكر (يادول.

[صحيح دی] [او ابن ماجه او احمد روايت كړی دی]

رسول الله صلى الله عليه وسلم له خپلو اصحابو څخه وپوښتل: آيا غواړئ چې ستاسو د واكمن ذات پر وړاندې ستاسو د تر ټولو غوره، باعزته، تر ټولو سپه وده كوونكو، پاكيزه او سوچه اعمالو په اړه خبر دركړم چې ؟ او دا چې په جنت كې ستاسو مرتبو لره پورته كوونكي وي؟ او ستاسو لپاره د سرو او سپينو زرو له صدقه كولو څخه غوره وي؟ او ستا لپاره لدې غوره وي چې له كفارو سره وجنګېږئ؛ تاسو د هغوی سرونه ووهئ او هغوی ستاسو سرونه ووهي؟ صحابه و وويل: هو مور دا غواړو. رسول الله صلى الله عليه وسلم وفرمايل: د الله جل جلاله ذكر په هر وخت او هر حالت كې.

http://www.sunnah.global/hadeeth/ps/show/3575